**NHS**
**Test and Trace**

**مخکې له دې چې تاسو ازموینه پیل کړئ دا بشپړ لارښود په غور ولولئ.**
**دا ازموینه ممکن د هغه څخه توپیر ولري چې تاسو دمخه کارولې وي.**

# د DHSC COVID-19 د ځان د ازموینې په اړه ستاسو تدریجي لارښود (د انټیجن ګړندۍ ازموینه)




دا لارښوونې یوازې د DHSC COVID-19 ځان د ازموینې (د انټیجن ګړندۍ ازموینه) د استعمال په اړه دي.

په دې لارښود کې دا تشریح شوي چې د ځان او کوم بل کس د COVID-19 ازموینه به څنګه کوئ او دا چې NHS ته به پایلې څنګه راپور کوئ.

د ژبې بدیل نسخې او ویډیو څرګندونې په دې ادرس شتون لري:
**gov.uk/covid19-self-test-help**

**د خپلې ازموینې ټولې پایلې NHS ته راپور کړئ**

# تاسو څه کولو ته اړتیا لرئ

## ستاسو تدریجي لارښود

15
دقیقو
برابرتیا

د لارښوونو مطالعه وکړئ او په سم ترتیب سره دا مرحلې تعقیب کړئ. د هرې ازموینې تنظیم کول شاوخوا 15 دقیقې وخت نیسي او پایلې به یې په 30 نورو دقیقو کې چمتو کېږي.

| برخه | سرلیک | پاڼه |
|---|---|---|
| **1** | د خپلې ازموینې ساحه مو چمتو کړئ | 6 |
| | د خپل ازموینې د کیټ مینځپانګې وګورئ | 7 |
| **2** | خپله ازموینه تنظیم کړئ | 8 |
| **3** | د خپل سواب نمونه واخلئ | 10 |
| | په بل چا باندې ازموینه ترسره کول | 11 |
| **4** | د سواب نمونه پروسس کړئ | 12 |
| **5** | خپله پایله ولولئ | 14 |
| **6** | خپله پایله راپور کړئ | 15 |
| **7** | ستاسو پایلې څه معنی لري | 16 |
| **8** | د ازموینې اجرا | 17 |
| **9** | د خپلې ازموینې کیټ په خوندي ډول ضایع کړئ | 17 |
| | د خپلو ازموینو د پایلو په اړه یو یادښت جوړ کړئ | 18 |

## په 3 کې شاوخوا 1 کس چې COVID-19 لري نه پوهیږي چې دی په دې ناروغۍ اخته دی.

په منظم ډول د ځان په معاینه کولو سره موږ د دې ناروغۍ د زیاتې خپریدو مخنیوی کولی شو او په خپلو کورنیو او ټولنو کې د زیات زیان منونکو کسانو سره مرسته کولی شو.

# د ازمويني د ترسره کولو په اړه مشوره

دا لارښوونې ګټورې دي، مشوره او د خبرداری بکسونه په دې ټول لارښود کې ستاسو سره د مرستې لپاره ورکړل شوي. په احتیاط سره ګام په ګام د دې لارښوونو په تعقیبولو سره به تاسو په ښه توګه دا فرصت ولرئ چې باوري پایله ترلاسه کړئ.

## عمومي لارښوونه او خبرداري

- د هر کس لپاره د ازمويني جلا کيټ استعمالوئ. تاسو د ازمويني د کيټ هر شی یوازې یو ځل استعمالولی شئ.
- دغه شيان بيا ځلي مه استعمالوئ. تاسو بايد د هر کس د پايلي راپور ورکړئ.
- که تاسو په خپلو لاسونو یا نظر کې څه ستونزې لرئ، نو کولای شئ چې د بل کوم کس سره په سواب دننه کولو او د ازمويني په پروسه کې مرسته ترلاسه کړئ.
- که ستاسو په پوزه مېخکی وي، نو بله سپږمه سواب کړئ. که په دواړه اړخونو مېخکی لرئ، له سواب کولو مخکې له یو اړخ څخه مېخکی لرې کړئ.
- که په تیر شوو 24 ساعتو کې ستاسو پوزه وینې شوې وي، نو بله سپږمه سواب کړئ یا 24 ساعته انتظار وکړئ.
- د ازمويني دمخه لږ تر لږه د 30 دقیقو لپاره څه مه خورئ یا مه څښئ چې د ازمويني د خرابیدو خطر کم کړئ.
- دا کیټونه یوازې د انساني استعمال لپاره دي.

**مشوره**

**د ازمويني کيټ د خوني په تودوخه کې یا په یخ وچ ځای کې ذخیره کوئ (له 2° د سانتي ګراډ څخه تر 30° درجو د سانتي ګراډ پورې). لمر ته یې مخامخ مه پرېږدئ او په یخچال یا فریزر کې یې مه ږدئ.**

کيټ بايد د خوني په تودوخه کې استعمال کړل شي (له 15° د سانتي ګراډ څخه تر 30° د سانتي ګراډ پورې). که کيټ په یخ ځای کې کېښودل شوی وي، (له 15° سیلسیس څخه کم)، نو د استعمال مخکې یې تر 30 دقیقو پورې د خوني په عادي تودوخه کې پرېږدئ.

**کيټ له ماشومانو څخه لرې ساتئ.**

# د دې ازموينې په اړه

## ولې تاسو باید پخپله د ځان ازموينه وکړئ

د ازموينې دا کيټ د هغه کسانو لپاره دی چې د ناروغۍ علايم پکې څرګندې نه وي، دا د پوزې او ستونې لپاره د سواب ازموينه ده څو دا وکتل شي چې تاسو ناروغي لرئ او کنه.

علايم نه لرونکي هغه کسان وي چې ويروس لري خو علايم يې پکې څرګندې نه وي.

### که د COVID-19 لپاره ستاسو د آزموينې پايله مثبت وي، نو تاسو بايد:

- د ناروغۍ د خپريدو په کمولو کې مرسته وکړئ، تاسو او ستاسو کورنۍ باید د حکومت د لارښونو په تعقیب سره سم ځان انزوا کړئ:
  **nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/self-isolation-and-treatment/**
- هغه خلکو ته مشوره ورکړئ چې تاسو ورسره په نږدې تماس کې ياست، يا هغه ځايونه چې تاسو په تيرو 14 ورځو کې ليدلي، چې د COVID-19 د احتمالي ناروغۍ لپاره ازموينه وکړي.

### که د COVID-19 لپاره ستاسو ازموينه منفي راشي

دا احتمال لري چې تاسو د آزموينې د ترسره کولو پر مهال ساري ناروغي نه لرله. که څه هم، د ازموينې منفي پايله دا تضمين نه ورکوي چې تاسو کورونا ويروس نه لرئ.


**مشوره**

که تاسو د کورونا ويروس (COVID-19) علايم لرئ يا په کورونا ويروس (COVID-19) اخته شوي ياست، مهرباني وکړئ د NHS لارښود آنلاين تعقيب کړئ:
**nhs.uk/conditions/coronavirus-COVID-19**

که تاسو د کورونا ويروس (COVID-19) علايم لرئ او ستاسو وضعيت خرابيږي، يا تاسو له اوو ورځو وروسته ښه نه ياست، نو د **111** NHS آنلاين خدمت وکاروئ: **111.nhs.uk**. که تاسو انټرنيټ ته لاسرسی نه لرئ، نوته زنګ ووهئ **111** NHS. د طبي بیړني وضعيت لپاره **999** ته زنګ ووهئ.


**که تاسو اندیښمن یاست، نو د مرستې په ترلاسه کولو کې ځنډ مه کوئ. په خپل شعور باور وکړئ.**

# دا ازموینه د چا لپاره مناسبه ده



### د هغو لویانو لپاره چې عمرونه یې تر 18 کلونو لوړ دي

ځان ازموینه او راپور، د مرستي سره که اړتیا وي.



### ځوانان چې عمرونه یې د 12 - 17 کلونو ترمنځ وي

د ځان ازموینه او د لویانو د څارنې سره راپور ورکول. بالغ کسان ممکن د اړتیا په صورت کې ازموینه ترسره کړي.



### د 12 کلونوڅخه کم عمره ماشومان

د 12 کلونو څخه د کم عمر لرونکي ماشومانو لپاره باید د یو بالغ کس په واسطه ازموینه ترسره شي.

دا ازموینه مه کوئ که چیرې تاسو احساس کوئ چې تاسو د ماشوم د ازمویني د ترسره کولو په اړه ډاډه نه یاست.

## څو ځله باید ازموینه وکړل شي

دا چې تاسو څو ځله باید ازموینه وکړئ ممکن ستاسو د حالاتو او اوسني ملي یا ځایي لاربښوونو پورې اړه ولري.

## چیرته اضافي ملاتړ ترلاسه کړئ

د ځان د ازمویني په اړه نور معلومات دلته وګورئ: **gov.uk/covid19-self-test-help**

# 1. د خپلې ازموینې ساحه مو چمتو کړئ




30 دقیقې

له آزموینې مخکې د 30 دقیقو لپاره خوراک او څښاک مه کوئ

تاسو به لاندې شیانو ته اړتیا ولرئ:

- ټایمر لکه لاسي یا دېوالي ساعت
- کاغذي دسمالونه
- هنداره
- سطحه پاکوونکی
- د لاس سنیټایزر یا صابون او ګرمو اوبو ته لاسرسی.




**1**

د هدایاتو دا لارښود په غور سره ولولئ.
که تاسو نورې مرستې ته اړتیا لرئ، همدارنګه کولای شئ د سواب د ازموینې ویډیو آنلاین وګورئ:
**gov.uk/guidance/covid-19-self-test-help**



**2**

له آزموینې څخه مخکې په سملاسي توګه د آزموینې د کیټ اېښودو لپاره یوه هموار‌ه سطحه پاکه، صفا او وچه کړئ.





**3**

خپل لاسونه په صابون او ګرمو اوبو سره، یا د لاس په سنیټایزر سره د 20 ثانیو لپاره ښه ومینځئ.


که له یوې څخه ډېرې ازموینې ترسره کوئ، د هرې ازموینې ترمینځ سطحه او خپل لاسونه بیرته ومینځئ.

# د خپل کیټ توکي وګورئ


**4** د ازموینې په خپل بکس کې تاسو باید لاندې شیان ولرئ:




د استخراج ټیوب هولډر





په مهر شوي کڅوړه کې د ازموینې پټې




د استخراج بفر
کڅوړه



د استخراج ټیوبونه



د کثافاتو کڅوړه




په مهر شوي پوښ کې
دننه سواب

**مشوره**

**که څه شی زیانمن، مات یا ورک شوی وي نو څه به کوئ**

که تاسو وګورئ چې څه شی زیانمن شوی، مات شوی، ورک شوی، نو مهرباني وکړئ د آزموینې کیټ مه کاروئ. تاسو کولی شئ د پیرودونکي د تماس مرکز ته په زنګ وهلو سره خپل نظر ورکړئ. تلیفونونه هره ورځ خلاص وي، د سهار له 7 بجو څخه تر ماسختن 11 بجو پورې.

زنګ ووهئ: **119** (له وړیا ګرځنده تلیفون او ځمکني تلفون څخه وړیا).
موږ په 200 ژبو او همدارنګه د بریتانیې په اشاروي ژبه ملاتړ وړاندې کوو.

که تاسو د یوې وسیلې لخوا زیانمن شوي یاست، د دې په اړه راپور ورکول کولی شي له نورو سره مرسته وکړي، مهرباني وکړئ دا ویب پاڼه وګورئ:
**coronavirus-yellowcard.mhra.gov.uk**

# 2. خپله ازموینه تنظیم کړئ


**5** د ازمويني پټۍ له مهر شوي کڅوړې څخه راوباسئ او په پاکه هواره سطحه یې واچوئ.

**خبرداری**

کله چې دا یوځل خلاص شي، نو ازموینه په 30 دقیقو کې دننه پیل کړئ.





**6** ټیوب په استخراج ټیوب هولډر کې ځای په ځای کړئ چې په بکس کې دننه لګیدلی وي.



**7** کڅوړه په دقت سره تاو کړئ یا یې خلاصه کړئ. دا له خپل مخ څخه لرې خلاصه کړئ او محتاط اوسئ چې هیڅ مایع تویه نه شي.


**پام وکړئ**



**8** د استخراج ټیوب خلاص کړئ او په آرام سره ټوله مایع له کڅوړې څخه په ټیوب کې واچوئ.

پام وکړئ چې کڅوړه له ټیوب سره لمس نکړئ. کوچنی پلاستیکي کڅوړه د کثافاتو په چمتو شوي ستل کې واچوئ.

**پام وکړئ**



**9** په آرام سره خپله پوزه په کاغذ کې سوڼ وهئ او کاغذ په ترل شوي کڅوړه کې وغورځوئ.

که تاسو ماشوم معاینه کوئ، نو د دوی سره د پوزې په سوڼ وهلو کې مرسته وکړئ. دا د دې لپاره دی چې تاسو له اضافي ګړنګو څخه خلاصې وموموی.



**10** خپل لاسونه له صابون او ګرمو اوبو یا د لاسونو له سنیټایزر څخه په استفادې سره له 20 ثانیو لپاره ښه ومینځئ.


که تاسو دا ازموینه په بل چا ترسره کوئ، تاسو باید خپل دواړه لاسونه ومینځئ یا یې د عفونت ضد په مایع سره پاک کړئ.





**11** ستاسو مخې ته په مهر شوي پوښ کې سواب وموموی. د سواب نرمه ټوکري څوکه په ګوته کړئ.

**خبرداری**

د سواب نرمه ټوکري څوکه مه لمس کوئ.




**12** د سواب بسته یوازې هغه وخت خلاصه کړئ کله چې تاسو چمتو یاست چې سواب په آرام سره راوباسئ او استعمال یې کړئ.



# 3. د خپل سواب نمونه واخلئ

**خبرداری**


د سواب د ټوکر څوکه د ژبې، غاښونو، ژامو یا نورو کومو سحطو سره مه لمس کوئ. که د بل سره لمس شي، نو ستاسو نمونه خرابیدلی شي.
د سواب نرمه ټوکري څوکه هیڅکه په خپل لاسونو مه لمس کوئ.

**که له 12 کلونو څخه د کم عمر ماشوم ازموینه کوئ، یا د داسي یو کس چې مرستې ته اړتیا لري، د 11 مې پاڼې ګامونه تعقیب کړئ.**

---

13 خولهپوره خلاصه کړئ او د سواب نرمه ټوکري څوکه په خپلو دواړو تانسلونو باندې (یا پر هغه ځای باندې چې هلته تانسلونه وي) وموښئ.

دا کار له ښه تماس سره څلور ځله په هر اړخ باندې ترسره کړئ (د داسي کولو لپاره د ټارچ یا آیینې څخه استفاده وکړئ). د خپل ستوني له شا څخه په احتیاط سره سواب لرې کړئ.




---


14 ورته سواب په نرمۍ سره 1 سپږمې ته دننه کړئ ترهغه چې لږ شان مقاومت احساس کړئ (تقریباً په خپل پوزه کې 2.5 سانتي میتره).




---

15 په سپږمه کې دننه په نرمۍ سره سواب تاو کړئ، داسي چې 10 ځله بشړې حلقې پوره کړې. زور ورکولو ته اړتیا نشته.

دا ممکن د نا آرامۍ احساس وکړي.
که تاسو د قوي مقاومت یا درد احساس وکړئ، نو سواب نور ژور مه دننه کوئ.



# په بل چا باندې ازموینه ترسره کول

د 12 کلونو څخه د کم عمر لرونکو ماشومانو لپاره باید د یو بالغ کس په واسطه ازموینه ترسره شي. دا چې ماشوم یا هغه کس چې مرستې ته اړتیا لري څنګه چمتو کوئ او ازموینه به یې کوئ، د دې په اړه لاندې لارښوونې تعقیب کړئ. تاسو کولی شئ تشریحي ویډیو په دې ادرس وګورئ: **gov.uk/guidance/covid-19-self-test-help**

که تاسو یو ماشوم معاینه کوئ، دوی ته د ازموینې کیټ وښایاست او د هغه څه په اړه ورسره وغږیږئ چې تاسو یې کوئ. که امکان ولري، هغوی د چا په غېږ کې کښېنوئ یا دې یې څوک له لاس څخه ونیسي. له ماشوم څخه وغواړئ چې خپله پوزه په کاغذي دسمال کې سوڼ وهي. کاغذي دسمال په تړل شوي کڅوړه کې وغورځوئ.


**13**




سواب په خپل لاس کې ونیسئ، ماشوم ته ووایاست چې خپله خوله پوره خلاصه کړي او سر یې شا ته کوږ کړئ. د سواب ټوکري څوکه په نرمۍ سره په دواړه تانسلونو (یا هغه ځای باندې چې هلته تانسلونه وي) وموښئ.


دا کار له ښه تماس سره څلور ځله په هر اړخ باندې ترسره کړئ. په احتیاط سره سواب راوباسئ.

**14**



د ورته سواب ټوکري په نرمۍ سره د دوی په یوې سپږمه کې دننه کړئ تر هغه چې تاسو یو څه مقاومت احساس کړئ.

**15**




په آرام سره سواب د هغوی په سپږمه کې دننه شاوخوا 10 ځله په دایروي حرکت سره تاو کړئ.

که تاسو تانسلونه سواب نه کړئ، دواړه سپږمې سواب کړئ، داسې چې په هره سپږمه کې 10 ځله په دایوري حرکت سره سواب تاو کړئ.

# 4. د سواب نمونه پروسس کړئ


**لارښوونه**

د ښو اجراآتو لپاره، د پوزې له سونې وهلو وروسته ژر څومره چې ممکنه وي د پوزې سواب معاینه کړئ.

**16**

د استخراج ټیوب پورته کړئ او د سواب ټوکري څوکه د راټولولو په ټیوب کې واچوئ ترڅو دا په مایع کې وي.

د استخراج د ټیوب په دننني څنډه کې په زور سره دغه څوکه دننه کړئ، په داسې حال کې چې تر 15 ثانیو پورې سواب په دایروي ډول تاووئ. دا د دې لپاره چې ستاسو نمونه مایعاتو ته انتقال شي.





**17**

د استخراج بفر ټیوب د سواب لرې کولو په وخت په آرام سره ونیسئ.


ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د سواب د نرمې څوکې څخه ټوله مایع لرې کړئ.

سواب د کثافاتو په کڅوړه کې واچوئ چې تاسو ته چمتو شوې ده.



**18**

د استخراج د ټیوب سر په کلکه توګه وتړئ ترڅو د لیک کېدو مخنیوی وشي.



**مشوره**




د دې مرحلې له بشپړولو وروسته یو ځل بیا خپل لاسونه ومینځئ.

**19**

ډاډ ترلاسه کړئ چې د ازمويني کيټ په پاکه او هواره سطحه باندې پروت دی.


د ازمويني پرمهال پټۍ ته حرکت مه ورکوئ.




**20**

په نرمۍ سره د استخراج بفر ټيوب باندې فشار واچوئ ترڅو د مايع 2 څاڅکي د ازمويني پټۍ کې د نمونې ځاه (S) ته ورسيږي.


ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو مايع اچولې ده، نه د هوا حباب. د نمونې راټولولو شيشه د کثافاتو په پلاستيکي کڅوړه کې د سواب لاسي سره واچوئ.




**21**

ټايمر برابر کړئ او د خپلې پايلې لوستلو دمخه 30 دقيقې انتظار وکړئ.

20 دقيقې وروسته هر وخت مثبته پايله څرګنديدلی شي، لاکن، تاسو بايد تر بشپړ 30 دقيقو پورې انتظار وکړئ ترڅو منفي پايله ثبت کړئ ځکه چې د ازمويني کرښه (T) د څرګنديدو پورې دومره وخت اخيستلی شي.




په راتلونکي پاڼه دا معلومه کړئ چې خپله پايله به څنګه لولئ او راپور کوئ. >>


# 5. خپله پایله ولولئ

**مهم**




ازموینه د چمتو کیدو لپاره له 30 دقیقو څخه د زیات وخت لپاره مه پرېږدئ، ځکه چې په دې سره به پایله باطله شي.

## مثبته پایله





دوه کرښې ښکاره کیږي. یوه رنګه کرښه باید د (C) سیمې د کنټرول په کرښه کې وي، او بله رنګه کرښه باید د (T) سیمې د آزموینې په کرښه کې وي.

دوه کرښې، یوه د C سره نږدې او بله T ته نږدې، حتی خړې کرښې، څرګندوي چې ازموینه مثبته ده.


**مهم**

که ستاسو ازموینه مثبته راشي، تاسو او ستاسو کورنۍ باید د حکومتي لارښوونو سره سم ځان منزوي کړئ:
**nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/self-isolation-and-treatment/**




## منفي پایله

یوه رنګه کرښه د کنټرول کرښې په (C) سیمه کې ښکاره کیږي. د ازموینې د کرښې (T) سیمه کې هیڅ کرښه نه ښکاره کیږي.




## باطله پایله

د کنټرول کرښه (C) نه ښکاره کیږي.


# 6. خپله پایله راپور کړئ

## تاسو باید خپلې مثبتې، منفي او باطلې پایلې NHS ته واستوئ.

د ټولو ازموینو پایلو ثبت کول له ساینس پوهانو سره د نوي ویروس د خپریدو په موندلو کې مرسته کوي او وړاندیز کوي چې څنګه غبرګون وښیئ. که خلک یوازې مثبته پایله راپور کړي، د قضیې کچه د دوی په پرتله لوړه ښکاري.

نو حتی که ستاسو پایله منفي یا باطله وي، تاسو به داډ ترلاسه کړئ چې د NHS معلومات دقیق پاتې شي.

تاسو د خپلې پایلې د راپور ورکولو لپاره د QR کوډ، یا د هغې لاندې د ID شمیرې ته اړتیا لرئ.




### آنلاین (ګړندی) راپور ورکړئ

که تاسو په انګلستان، ویلز یا شمالي آیرلینډ کې ژوند کوئ، نو لاندې ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ:

**gov.uk/report-covid19-result**

که تاسو په سکاټلینډ کې ژوند کوئ، نو لاندې ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ:

**covidtest.scot**




### یا د ټیلیفون له لارې راپور ورکړئ

**119** ته زنګ ووهئ

ټلفوني اړیکې هره ورځ د سهار له 7 بجو څخه تر ماښام 11 بجو پورې پرانیستې وي (له وړیا ګرځنده ټیلفونو او لینې تلفون څخه وړیا)



# 7. ستاسو پايلې څه معنی لري

## کله چې تاسو خپله پايله راپور کوئ، تاسو يوازې خپله ازموينه بشپړه کړې

### مثبته پايله

که تاسو مثبته پايله ترلاسه کړئ، نو احتمال شتون لري چې تاسو دا مهال په COVID-19 اخته ياست او دا خطر شتون لري چې نور کسان په دې اخته کړئ. کله چې تاسو خپله پايله راپور کړئ، تاسو ته به د راتلونکو ګامونو په اړه نور معلومات درکړل شي.

**خبرداری**

تاسو، هرڅوک چې ستاسو سره ژوند کوي، او هرڅوک چې ستاسو د ملاتړ په ساحه کې وي، بايد د اوسني ملي او ځايي لاربښود سره سم ځان منزوي کړي، کوم چې دلته په دې ويب پاڼه موندل کيدی شي: **nhs.uk/conditions/coronavirus-COVID-19/self-isolation-and-treatment/**

### منفي پايله

که تاسو منفي پايله ترلاسه کړئ، نو احتمال شتون لري چې تاسو هغه وخت ساري ناروغي نه لرله کله مو چې ازموينه ترسره کوله. اما، د ازموينې منفي پايله دا تضمين نه ورکوي چې تاسو COVID-19 نه لرئ.

که ستاسو د آزموينې پايله منفي وي، تاسو بايد د ملي او ځايي مقرراتو او لاربښوونو تعقيب ته دوام ورکړئ، چې په دې کې له اړتيا سره سم په منظمه توګه لاس مينځل، ټولنيز واټن ساتل او د مخ ماسکونه اچول شامل دي.

که تاسو لوړه تودوخه، نوی مسلسل ټوخی ولرئ يا مو خپل د ذايقې او بوی حس له لاسه ورکړی وي، تاسو او ستاسو کورنۍ بايد ځان منزوي کړئ او لاربښوونې ته دا دي چې لاندې بله ازموينه وکړئ: **gov.uk/get-coronavirus-test** يا د پيرودونکي تماس مرکز ته په **119** زنګ ووهئ. تليفونونه هره ورځ خلاص وي، د سهار له 7 بجو څخه تر ماښتن 11 بجو پورې.

## باطل پایله

که تاسو باطل پایله ترلاسه کړئ، د دې معنی دا ده چې ازموینه په سمه توګه نه ده ترسره شوې.
تاسو اړتیا لرئ له کڅوړې څخه یوه بله افقي ازموینه (flow test) وکړئ. د لومړي کیټ څخه هیڅ
شی مه کاروئ او د لومړي ګام څخه د ازموینې پروسه پیل کړئ.

## که ستونزه دوام ولري

که ستونزه دوام ولري، سمدستي د ټېسټ کیټونو کارول بند کړئ.
که تاسو بله ازموینه ونه لرئ، تاسو ممکن د NHS COVID-19 غوښتنلیک له لارې یا د
دې ویب پاڼې په کتلو سره یو بل دوړ ازموینه ترسره کړئ:
**gov.uk/get-coronavirus-test** یا د پیرودونکي تماس مرکز ته په **119** زنګ
ووهئ. تلیفونونه هره ورځ خلاص وي، د سهار له 7 بجو څخه تر ماسختن 11 بجو پورې.

## 8 د ازموینې اجرا

که یو کس د کورونا ویروس (COVID-19) لوړې کچې لري، زیات احتمال دا دی چې دا
ازموینه به مثبت پایله ورکوي.
دا په دې معنی چې زیات احتمال دا دی چې دا به هغه کسان کشف کوي چې اوسمهال ناروغي
لري او سمدلاسه منزوي کیدو ته اړتیا لري.

## 9 د خپلې ازموینې کیټ په خوندي دوړ ضایع کړئ



کله چې ستاسو ازموینه بشپړه شي، د آزموینې د کېټ ټول کارول شوي مواد د کثافاتو په کڅوړه
کې واچوئ او دا د خپلې کورنۍ په عمومي کثافاتو کې واچوئ.

له ضایع کولو وروسته خپل لاسونه په ښه توګه ومینځئ.

# د خپلو ازموینو د پایلو په اړه یو یاددښت جوړ کړئ

دا ستاسو د خپلو ریکارډونو لپاره ده. تاسو باید لاهم خپلې پایلې NHS ته راپور کړئ (د معلوماتو لپاره 15 مه پاڼه وګورئ).

دا وېب پاڼه وګورئ: **gov.uk/report-covid19-result**

| چا ازموینه ترسره کړه | نیټه | وخت | د ازموینې پایله |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

## ستاسو کیټ لاندې توکي لري

| شیان | 3-بسته | 7-بسته |
|---|---|---|
| د کارولو لپاره لاربښوونې (دا سند) | 1 | 1 |
| د ټیوب هولډر سوري سره بکس | 1 | 1 |
| په مهر شوي کڅوړه کې د ازموینې پټۍ | 3 | 7 |
| د استخراج بفر کڅوړې | 3 | 7 |
| د استخراج ټیوب هولډر | 3 | 7 |
| په مهر شوي پوښ کې دننه سواب | 3 | 7 |
| د کثافاتو کڅوړه | 3 | 7 |
| | د محصول کوډ TK2196 | د محصول کوډ TK2193 |

NHS
**Test and Trace**

د دې وسیلې لېږل یوازې د NHS ټېسټ او ټریس برنامې لاندې DHSC ګمارنې برخې په توګه اجازه لري.

**جوړوونکی:** Department of Health and Social Care, 39 Victoria Street, Westminster, London, SW1 0EU.

**د DHSC د تړون لاندې جوړ کړل شوی له اړخه د:** Xiamen Biotime Biotechnology Co Ltd, 2F/3F/4F, No. 188, Pingcheng South Road, Haicang Street, Haicang District, Xiamen, Fujian, 361026, P. R. China.

د سمبولو فهرست

- 30° سانتي ګراډ / 2° سانتي ګراډ: له 2 – 30° درجو د سانتي ګراډ پورې یې ذخیره کړئ
- STERILE EO: د ایتیلین آکساید په کارولو سره معقم شوی
- جوړوونکي
- مناسب دي د XX ازموینو لپاره
- LOT: لاټ شمیره
- د استعمال نیټه
- IVD: په انویټرو تشخیصي طبي وسیله
- که بسته ویجاړه شوې وي، نو مه یې استعمالوئ
- دا د لمر وړانګو څخه لرې وساتئ
- د تولید نیټه
- بیرته یې مه کاروئ
- د بیا کارولو وړ
- وچ یې وساتئ
- د استعمال لپاره لارښووني وګورئ
- احتیاط

په دې سند کې ورکړل شوي ټول اسناد او عکسونه د 18 جون 2021 د نیټې پورې صحیح دي.
نسخه 1.3.4

**د خپلې ازموینې ټولې پایلې NHS ته راپور کړئ**